# ۱-اوباماوطالبانوته يې دعمومی عفوي فرمان صادرکړ !

# ۲-امریکا وطالبانوته ديو۱ ميلیارډاو۳دری سوه ميليونه ډالرودبودجی ورکول يې په نظرکې ونيول !

دانټرنيټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی عـزيـزاحمد خوارمل

## رويترزرپوټ ورکړ:

## ۱-اوباماوطالبانوته يې دعمومی عفوي فرمان صادرکړ !

دامريکا دجمهور ريس بارک اوباما دنوی دستورالمعل پربنسټ طالبانوته دعمومی عفوي دفرمان په صادره ولوسره ،ددی فرمان په متن کې ويل سوی دی : په هغه صورت کې که طالب ځواکونه دالقاعدی د تروريستتي ډلی څخه جلا سي ،اودافغانستان په ټولنه کښې جذب شی ،نو دژوندکولودامکاناتوڅخه به برخمن سي .

انګليسی خبری رسنی رويترز وليکل : دامريکا دجمهور ريس بارک اوباما دنوی دستورالعمل پربنسټ ،په هغه صورت کې که طالب ځواکونه دالقاعدی د ټروريستي ډلی څخه جلا سي او دافغانستان دخلکوترڅنګ ځانته سوله ايز ګډ ژوند اختيارکړی اوټولنی ته جذب سي بيا نودژوندکولو دحقونواوامکاناتوڅخه برخمن کيدی سي.

کارل لوين دامريکا داستازودجرګی دبهرنی سياست دکميسون ريس په دی هلکه يې وويل : دغه دستورالعمل د هغو ځواکونودپاره چې دطالبانو دليکوڅخه جلا سی ، وهغوی ته به دژوندکولوامکانات اودپيسو (ډالرو ) دترلاسه کولوزمينه به دوي ته برابريږی .

دواشينګټن ددی نوی لړليد اوکتنی بله بيلګه دعراق په هيوادکې دی چې د عراق ددولت په وړاندی وسله وال مخالفين کرار،کرار دعراق دټولنی ولمنی ته بيرته راغلل اوراوګرځيدل.

دغه ويناوی په داهسی وخت کې ويل کيږی چې دعراق دبعث دګوند ډېر ځواکونه دعراق دعمومی عفوی په جريان کې ددی امکاناتوڅخه برخمن کيږی اودغه بعثی ځواکونه زيار باسی اوددی غوښتونکی دی ترڅو ددی هيواد وسياسی ډګر ته بيرته دګډون دپاره را وګرځي او ودی بهيرته دی ورګډ سي.

همدا رنګه دفرانسی خبری رسنی دواشنګټن څخه دیورپوټ په خپره ولوسره ولیکل : دامریکا جمهور ریس بارک اوباما تیره اونی دچهارشنبه په ورځ دژنرال مایک مولن دامریکا دګډوځواکونودستردرستیز سره په خپل دغه کتنه کې په افغانستان دامریکایی ځواکونودقوماندان جنرال مک کریسټال دغوښتنی په هکله چې په دی هیوادکې دامریکایی ځواکونو پرزیاتوالی باندی ټینګارکوی په دی اړه یې خبراتری کړې، اودا خبراتری په داهسی حال کې ترسره سوی چې دافغانستان خلک اودپوهنتونونوزده کوونکی اومحصلین تیره اونی څوځلی واټونواوسړکونوته را ووتل او د« مړه دی وي امریکا » دشعارونوپه ورکولو سره دخپل هیوادافغانستان څخه دامریکایی ځواکونودوتلوغوښتونکی سول .

## انتی وار ولیکل:

## ۲-امریکا وطالبانوته دیو ۱ میلیارډاو۳دری سوه میلیونه ډالرودبودجی ورکول یې په نظرکې ونیول !

دامریکایی چارواکو یوی انټرنیتی سایټ ولیکل : دامریکا دولت وطالبانوته دیو۱میلیارډو ډالرو۳دری سوه میلیونه ډالروبودجی ورکول یې ددوي دجګړه ایز لړلیداودریځ په بدلون ورکولو سره ،په نظرکې ونیول.
دانتی وار خبری رسنی په یورپوټ کې چې دغه رپوټ دجیسن دیتز په قلم لیکل سویدی په دی اړه لیکی : تیره اونی دامریکا دولت (۶۸۰) شپږسوه اتیا میلیارډه دالری پوځی بودجه چې دامریکا دکنګرس ته وړاندی کړې وو او دکنګرس لخواتصویب اوپریکړه پری ونیول سوه ، دغه پریکړه دیوی داهسی مادی درلودونکی دی چې دنورو جنګجالی دی په هکله ددی وړاندیزیزپه ترڅ وکولای سوای چې دیواعشاریه دری ۳،۱میلیارډه ډالرو پر مسلی باندی چندان بحث اوجنګجالی خبراتری رامنځته نه سی ،او دغه اندازه پیسی دي ودی پوځی بودجی ته ورګډ کړې. دغه لایحه دافغانستان دټولنی دبل ځل ملاتړدتثبیتیدوترسرلیک لاندی اودطالبانود ډلی دهغه طالب ځواکونودراجذبول په خاطر چې ددوي په شته والی سره د داهسی ټولنوسره چې دتاوتریخوالی سره مخالف دی په نظرکې نیول سوی دی . او داپه دی مانا دی چې امریکا کولای سي ددی بودجی څخه په مستقیم ډول سره دغه مالی پانګه اوبودجه په افغانستان کې وهغومبارزوطالبانوته چې څه ناڅه ایدیالوژیکی عقاید اودطالبانی بنسټ پالنی لړلید نه لري ددوي ددغه لړلیدونواوجګړیزودریځونودبدلون ورکولوپه وړاندی ودوي ته پیسی« ډالر» ورکول کیږی.
یوامریکایی سناتورددی فوځی لایحی دا ړوندمادی په توجهی اوتوضیح کولوسره وویل: دغه مالی مرسته په افغانستان کې وهغوپخوانی مبارزوطالبانوته چې همدا اوسمهال دخپلی ټولنی په ملاتړ را ولاړسویدی،په همدی ډول سره توصیف کړ.

همدارنګه ترمخه تردی لیکنې دټایمزاونلاین په روان کال کې داکتوبر دمیاشتی پریوولسمه (۱۱) نیټه باندی په یوه مقاله کې یې اشواکړ چې اوباما وطالبانوته دپیسو «ډالرو» دورکولو سیاست ترڅیړنی لاندی نیسی.
دټایمز اونلاین په دی مقاله کې ویوی څیړنیزی شننی ته اشاره کوی چې په دی نږدیو ورځوکې دامریکا دسنا دبهرنی کمیټی لخوا دافغانستان په هکله صورت موندلی دی.
ددی څیړنی اوشمیرنی پر بنسټ طالبان دپینځلسوزرو(۱۵۰۰۰) کسانوپه زوراوځواک سره خپل واک څرګنده کوي چې یوازی په سلوکښې پینځه فیصده ۵ ٪ یې ددی جملی څخه هغه کسان دی چې داعتقادی انګیزی پربنسټ دطالبانو ولیکوته ورګډ سویدي اوپه دی جګړی اومبارزی کې ګډون اوبرخه لري ،اما په سلوکې پاته نوراویا فیصده یې (۷۰ ٪) یوازی په دی موخه چې دورځې لس (۱۰) ډالره ترلاسه کړی ،ودی ډلی ته ورجذب اوګډ سویدي.
دسنا دبهرنی کمیټی رپوټ ددی څرګندوی دی ، که په همدی ډول سره دامریکا دولت دطالبانوودغوشمیر کسانوته که دوه چنده پیسی اوډالر ورکړی ( چې دامریکاییانودپاره وجنګیږی ) نو به دورځې (۳۰۰۰۰۰) دری سوه زره ډالره پانګه ولګول سی.
دا په داهسی حال کې دی چې دامریکا دولت په افغانستان کې دجګړی دپاره دورځې (۱۲۵) یوسلوپینځه شپته میلیونه ډالره دطالبانوسره په جګړی کې مصرفوی.
امریکا پرافغانستان باندی داتو(۸) کالو تیری اوفوځې ښکیلاک څخه وروسته دطالبانودمنځه وړلو اونسکوریدو په سبب اودخپلولویدیزوالوملګروپه ملاتړ سره،همدا اوس دخپلووتلوجګپوړوپوځې قوماندانو او ددفاع دوزیر په ژبه اووینا سره چې په دی اړه وایی اوپه افغانستان کې دطالب ځواکونو پرجګړیزولوړتیاوي باندی هم اقرار کوي ./

اخیځلیک : دقطره نیوز څخه